http://www.arianafghanistan.com

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۱۰/۲۲

# دا څه وشو؟

دا په ما څه شویدی، ورځ هم راته شپه ښکاره شی
رڼا می هم دې زړو سترګو ته ، تیاره ښکاره شی

څه عجیبه غوندی رنځور یم، تمیز نه شم کړلی
ډولۍ روانه وی خو، ماته جنازه ښکاره شی

باغ وی، ګلونه وی، چمن وی او ښکلا خوره وی
سترګې می تور وخوری، باغونه هدیره ښکاره شی

ښکلې دره وی، کروندې وې ، شرشرې د اوبو
سیلۍ را والوزې، ګردونه شی، میره ښکاره شی

د آبادۍ زیري راځي، خو لا راغلي نه وی
چی د ورانی څپه په کلی، را خوره ښکاره شی

بخت دی ویده دی کلیواله، که دی عقل کم دی
ډکه کاسه دی هم، سپیره لاس کی چپه ښکاره شی

اکتوبر/۲۰۲۱/۱۲ تورنتو - کاناډا



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دي آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com